PalArch's Journal of Archaeology of Egypt / Egyptology

# DR.ALI KHELDARYAB, ROMANTIC POET, ELEMENTS OF ROMANTICISM

*Dr.ShukriaQadir[1], Nagin Bibi[2], Farkhanda[3]*

[1]Assistant Professor Department of Pashto, Abdul Wali Khan University Mardan (AWKUM)

[2]Lecturer, Department of Pashto, AWKUM

[3]Lecturer, National University of Modern Language (NUML)

**Dr. Shukria Qadir, Nagin Bibi, Farkhanda. Dr. Ali Kheldaryab, Romantic Poet, Elements Of Romanticism-- Journal Of Archaeology Of Egypt/Egyptology 20(1), 1196-1210. ISSN 1567-214x**

**Keywords: Romanticism, Intellectually Importantince, Poetry, Pashto,**

ABSTRACT

Romanticism has an intellectually importantince in poetry. This term come in the literature at the end of the 18th century. In English literature, Coleridge, Word worth, Shelley, John Keats, and Byron are famous writers in this regard. In poetry, love for nature, philanthropy, mentioning of supernatural elements, music, innovation of words, and rebellion against tradition are the characteristics of Romanticism. The tradition of romantic poetry in Pashto has been going on for a long time. And the element of romance can be found in almost every poet of Pashto. Dr. Ali Khel Daryab is an acclaimed romantic poet of Pashto. In this article, the elements of romanticism in his poetry have been analyzed.

ډاکټر علي خېل درياب د پښتو ادب يو لوئے او پياوړے نوم دے ۔ د پښتو ادب د پرمختګ په لړ کښې ئې ادبي هڅې او زيارونه د ستائيلو وړ دي ۔ په يو وخت شاعر هم دے، اعلىٰ نثر نګار هم دے ، نقاد هم دے او محقق هم دے ۔ په افسانه ئې هم لاس بر دے مترجم هم دے او په فولکلور هم عبور لري. هر يو اړخ ئې دومره پوخ دے چې انکار ترې نۀ شي کېدې ۔ د ډاکټر علي خېل درياب که د ادبي کړاؤ په هر اړخ خبره کوو نو مونږ ته به د هغه په ډېر مواد په لاس راځي .۔ د ډاکټر علي خېل درياب شاعرئ ته که په غور اوګورو نو د ژوند او د چاپېرچل سره هره موضوع ئې په کلام کښې راځاے کړې ده او بنده اک پک پاتي کوي چې څومره د لوړ معيار او په رښتيني توګه سوچه شاعرئ ده ۔ که اخلاقيات ئې په کلام کښې اوکتے شي نو هم بنده حېران شي او که جماليات ئې په کلام کښې اوکتے شي نو هم بنده ګوته په خوله شي چې دا کوم خيال او کمال دے ۔ په دې ليکنه کښې چې مونږ د ډاکټر علي خېل درياب د شاعرئ په کوم اړخ خبره کوو نو هغه رومانيت دے ۔

دلته د یوې خبرې سپیناوے کول ضروري ګڼم او هغه دا چې زمونږ د پښتو زیاتره ادیبان ، لیکوال او شاعران دیوې غلط فهمۍ ښکار دي او هغه دا چې دوي رومانیت محض د عشق ومحبت سره تړي. او دا موضوع صرف مینې او د مینې وراداتو ته محدودوي، او هاغه شاعران چې په دغه موضوع لیکل کوي، د مینې او محبت وردات بیانوي یا پکښې غزلې نظمونه سندرې لیکي ،هغوي ته روماني شاعران وائي او د رومانیت تمغې ورته تړي. ولې په حقیقت کښې داسې نه ده. رومانیت په خپل ځان کښې د نورو مفاهیمو او مطالبو یوه دنیا لري. چې ذکر به ئې په خپل ځاے په تفصیل سره راشي.

تر کومې چې د ډاکټر علي خېل دریاب تعلق دے نود هغه د شاعرۍ یو ښۀ ، برجسته او د ستائینې وړ اړخ رومانیت او روماني شاعري ده ـ که په عمومي توګه د نن ټولنې خبره کوو نو د ټولو نه مقبوله او خوښونکې موضوع چې زیاته په ټولنه او چاپېرچل کښې خوښیږي د اخلاقیاتو نه پس رومانوي ده ـ د اخلاقیاتو نه پس رومان دے چې د اولس د لوئے او وړوکي په زړۀ ښۀ لګي او خوښوي ئې ـ او د نارینو سره سره د پښتنې ټولنې نه پرته په نړیواله توګه زنانه هم دغه موضوع خوښوي ـ ډاکټر علي خېل دریاب هم د اولس په ذهنونو او سوچونو رسېدلے شاعر دے ـ د هغه په کلام کښې د نورو موضوعاتو په څېر رومانیت هم لویه برخۀ لري ـ د ډاکټر علي خېل دریاب په کلام کښې د روماني څرک اخستو نه وړاندې غواړم چې د رومانیت په حقله څه معلومات راوړم او ددې خبرې وضاحت وکړم چې رومانیت څه څیز دے ـ

مونږ که انګرېزي ادب د اتلسمې صدۍ کلاسېکي شاعري اوګورو نو ثابته به شي، چې د Pدغې دورې شاعرانو محض په ساخت یا جوړښت زور ورکړے دے ـ د هغوي لفظیات (ډکشن) مصنوعي او رسمي دي ـ دلته لفظیات (ډکشن ) هغوي صرف د اخلاقیاتو او پند ونصیحت د درس دپاره استعمال کړي دي ـ او د خلقو د اصطلاح دپاره ئې شاعري کړې ده ـ ظاهره خبره ده چې دغه شاعري زړه ، ذهن او عقل ته اپیل کوي ـ

د کلاسېکي شاعرۍ څه اصول وو ـ دغه اصول فرسوده او روایتي اصول وو ـ غېر فطري وو ـ او تر ډېره حده رسمي ، سیاسي او غېر یقیني وو ـ کومو شاعرانو چې دغه اصول خپل کړي وو، هغوي د حکومت آله کار او چمچې وې ـ هغوي د عوامود جذباتو او مسئلو ترجماني نۀ کوله ـ بلکې د حکومت نغاره به ئې غږوله ـ هم دا وجه وه چې د هغوي په شاعرۍ کښې مصنوعیت وۀ ـ ژوند په کښې نۀ وۀ، دغه شاعري محض د لاطینۍ ژبې د ګرانو الفاظو یوه ذخیره وه ـ چې په مخالفت کښې ئې یو نوے تحریک راپیدا شو ـ څه چې مونږ د رومانیت په تحریک پېژنو ـ

دغه شان کومه شاعري چې د نولسمې صدۍ په شروع کښې مخې ته راغلې ده ـ دغه د انګرېزي ادب روماني شاعري ده په دغه شاعرۍ کښې د فطرت سره مینه ده ـ د انسان او انسانیت سره مینه ده ـ موسقیت دے پکښې، د الفاظو جدت او د نوؤ اصطلاحاتو د راوړلو کوشش پکښې شوے دے ـ د دې نه علاوه په کښې یوبل اهم څیز د مافوق الفطرت عناصرو بیان هم دے ـ انګرېزي ادب کښې په دغه حواله کالرج ، وردز ورتهـ ، شیلے، جان کېټس او بائرن مشهور شاعران دي، چې رومانوي شاعري ئې کړې ده ـ

د رومانیت د اغاز په حقله دې لاندینۍ حواله کښې مونږ ته نوې معلومات په لاس راځي.

"Romanticism is the 19th century movement that developed in Europe in response to the Industrial Revolution and the disillusionment of the Enlightenment values of reason. The movement was characterized by the emphasis on emotion and imagination as well as the glorification of nature with its irrational forces. Whereas Neoclassicism praised the return to the classical beauty and the perfection of the ancient world, Romantic artists preferred to revive medievalism. Romanticism derived from the German Sturm und Drang movement and from the ideology of the French Revolution. Values such as freedom, imagination, individual expression

and irrationality are all main characteristics of Romanticism that first started to appear in portraiture”.[1]

ترجمه

رومانیت د نولسمې صدئ پاڅون دے.څه چې په یورپ کښې دعقل د روشن خیاله اقدارو او د صنعتي انقلاب د مایوسئ په پرتله کښې مخې ته راغې. ددے پاڅون په خاصه کښې په جذباتو او تخیل د زور ورکولو نه علاوه د غېر معقول قوتونو او فطرت ستائینه کول وو. چرته چې نوکلاسیکیت د کلاسیکي ښکلا پله د واپسئ او د لرغونې دنیا د کمال ستائینه کړې ده نو هلته رومانوي فنکارانو قرون وسطيٰ د راژوندئ کولو هڅې کړې دي. رومانیت دجرمن د سټرم او ډرینګ تحریک او د انقلاب فرانس د نظریې نه ماخوذ دے. ازادي، تخیل، ذاتي اظهار اود غېر معقولیت په څېر قدرونه د رومانیت خصوصیات دي.

د پروفېسر انور جمال د وینا ترمخه رومانیت هغه طرز احساس او انداز اظهار دے کوم کښې چې تخیل د فکر په مقابله کښې زوره ور وي، د خواب او خیال په ګلورینه فضا کښې د ځانه د جهانه ورکېدل دي، یو لحاظ سره رومانوي یوټوپیا وي ـ [2]

څه پوهان د رومانیت په حواله رائې لري چې رومانیت په ډېر لږ وخت کښې اولس ځان پله راګرځولے دے او د د رومانیت په حواله که تاریخ ته مونږ زیر شو نو دومره لرغونے او زوړ تاریخ نۀ لري لکه سن فرسټ مېرمنه د رومانیت په حواله خپله رائې وړاندې کولو په مهال لیکي چې دا د اتلسمې پېړئ پېداوار دے او د دې نه وړاندې رومانیت اصطلاح نۀ وه ـ

دغه رنګ افلاطون د شاعرئ خلاف په وړومبي ځل غږ پورته کړے ؤ او په دغه مطلب او غرض چې دا د خلقو ذهن او سوچ خرابوي او اخلاقي معیار ئې راغورځوي ولې ډاکټر راج ولي خټک ترمخه هغۀ وړومبے روماني انسان ؤ، په دې حواله هغوي داسې لیکي:

"د رومانیت اساسي روح د افلاطون په نظریاتو کښې موجود دے ، هغه داسې چې کله افلاطون انسان یوه مرغئ تسلیموي د کومې چې وزرې هم نه وي خو بیا هم د الوتو قوت لري نو هغه په حقیقت کښې د انسان په تخیل/ متخلیه باندې بالواسطه د مهر تصدیق ثبوت دے ، له دې کبله مونږ دا وئیلے شو چې رومانیت د هغه کیفیت د موندلو نوم دے کوم چې د انسان مادي وجود دومره د جذبې نه سرشاره کړي چې ګویا وزرې ورله پیدا کړي.ګرئرسن افلاطون ته (وړومبے عظیم روماني وئیلے" ـ [3]

یوه وېب پاڼه د رومانیت اصطلاح داسې توضیح کوي. لیکي :

“The term *Romanticism* does not stem directly from the concept of love, but rather from the French word *romaunt* (a romantic story told in verse). Romanticism focused on emotions and the inner life of the writer, and often used autobiographical material to inform the work or even provide a template for it, unlike traditional literature at the time. Romanticism also fixated on nature as a primordial force and encouraged the concept of isolation as necessary for spiritual and artistic development”[4]

ترجمه

.

د رومانیت اصطلاح نېغ په نېغه د مینې د تصور سره نه ده،بلکې دا د فرانسیسئ د یو لفظ رومونټ (یوه روماني قیصه چې په یو ایت کښې بیان شوې ده) نه وتې ده . رومانیت دلیکوال جذباتو او داخلي ژوند ته پاملرنه وکړه او دهغه دور د روایتی ادب په خلاف ئې د چارو د اګاهئ یا ددې دسانچو دپاره اکثر د ژوند لیک مواد پکار راویستل. . رومانیت په فطرت باندې هم د یو بنیادي قوت په جوړ حاوي شو او د تنهایئ د تصور حوصله افزائی ئې وکړه څه چې د روحاني او فنکارانه بره تګ دپاره ضروري وه.

دغه شان يوه بله وېب پاڼه ئي څه دارنګ ذکر راخلي ، ليکي :

"**Romanticism**, attitude or intellectual orientation that characterized many works of literature, painting, music, architecture, criticism, and historiography in Western civilization over a period from the late 18th to the mid-19th century. Romanticism can be seen as a rejection of the precepts of order, calm, harmony, balance, idealization, and rationality that typified Classicism in general and late 18th-century Neoclassicism in particular. It was also to some extent a reaction against the Enlightenment and against 18th-century rationalism and physical materialism in general. Romanticism emphasized the individual, the subjective, the irrational, the imaginative, the personal, the spontaneous, the emotional, the visionary, and the transcendental"[5]

ترجمه: رومانيت يوه رويه يا فکري رجحان ، چې په مغربي تهذيب کښې ئي د اتلسمي صدی د اخر نه د نولسمي صدی تر مينځه پورې ددغه ځاے په ادب ، مصورۍ، موسيقی، فن تعمير، تنقيداو د تاريخ ليکنې په چارو ډېره اغېزه وکړه. رومانيت ته د احکاماتو د اصولو، د ټيکاؤ،د يو رنګۍ، د توازن، د مثاليت، د عقلي اصولود رد په بڼه هم کتلې شو. څه چې په عامه توګه کلاسيکيت او په خاصه توګه د اتلسمي صدی نوکلاسيکيت څرګندوي.دا تر څه حده د روشن خيالی په خلاف او د اتلسمي صدی د عقليت پسندی او ماديت په ضد يو رد عمل وه. رومانيت په ځانګړتيا، داخليت، غېر معقول، تخيلاتي، ذاتي، بې ساخته، جذباتي ، لرليدنه او ماورائيت زور راوړي.

د يو پوهان د وينا ترمخه که د يو شاعر يا ليکوال د عشق ومحبت اندروني کېفيات د فطرت د حسن سره تړلي وي او په خپله شاعرئ يا نثري ليکونو کښې د فطرت حسن ستائي او قلبي جذباتو تسکين پرې کوي نو دغه روماني شاعر يا نثار ګڼلے شي -
د رومانوي تحريک څه مهم نکات پوهانو بيان کړي دي په دغه اهم نکاتو کښې څه دا لانديني دي .

۱: جذباتيت:

د رومانوي شاعرانو په شاعرئ کښې جذبه غالبه وي، جذبه په زړهٔ کښې وي، ځکه نو په شاعرئ کښې د زړهٔ خبرې بيانولے شي -

۲: د فطري مناظرو سره دلچسپي:

رومانوي شاعران د خپلو زړونو د جذبو تسکين په فطري او فطرتي مناظرو کښې لټوي - هم دا وجه ده چې هغوي د فطري مناظرو سره دلچسپي لري - او هم د فطرتي مناظرو عکاسي د خپلو جذباتو سره په شعر کښې رانغاړي -

۳: د ماضي سره مينه:

د رومانوي شاعرانو په کلام کښې د رنګ شاعرانو د تېرو وختونو سره مينه لري، هغه خوښوي او تېر يادونه په خپل کلام کښې خوندي کوي -

۴: تصوف:

تصوف د رومانوي شاعرانو يوه بله اهمه موضوع ده ځکه نو هغوي د تصوف او رموز باريکات او خيالات په خپله شاعرئ کښې بيانوي -

۵: د داخليت اظهار:

رومانوي شاعران که یو خوا د فطرت مناظرو سره مینه لري نو بل خوا خپل داخل هم پاملرنه کوي - او په خپله شاعرۍ کښې خپل داخلي کېفیات هم بیانوي -

۶: د روایت نه بغاوت:

د دې مطلب دا دے چې رومانوي شاعران د کلاسیکي شاعرۍ د روایاتو نه بغاوت کوي، د کلاسیک قوانین نهٔ مني او نهٔ د ساخت خیال ساتي -

۷: د کلي وال ژوند سره دلچسپي:

رومانوي شاعران په خپله شاعرۍ کښې د کلي وال ژوند سره تړلي ټول څیزونه رانغاړي او دغه کار هغوي د کلي وال ژوند سره د مینې او دلچسپۍ په اثر کښې کوي -

۸: د مافوق الفطرت عناصرو عکاسي:

رومانوي شاعران په خپل کلام کښې د زړهٔ راښکون دپاره د مافوق الفطرت عناصرو عکاسي په کښې هم وي -

۹: د تخیل آزادي:

رومانوي شاعران د ساخت خیال نهٔ ساتي هغوي د تخیل د ازادۍ قائل وي -

۱۰: د انسان پالنې عنصر:

رومانوي شعراء په انسان او انسانیت مئین وي ، هغوي د انسانیت د پالنې علمبردار وي او په خپلو کلامونو کښې د دوي د حقونو دپاره اواز اوچتوي -

د رومانیت ددغه بره نکاتو په تناظر کښې اوس غواړم چې د علي خېل دریاب د شاعرۍ جاج واخلم او ددغه نکاتو ترجمان شعرونه د هغه د کتابونو نه د حوالې په توګه رانقل کړم.
د رومانیت وړومبے عنصر جذباتیت دے ، د علی خېل دریاب په شاعرۍ کښې د رومانیت دا عنصر ډېر په پرېوانه توګه بیاموندې شي. د مثال په ډول دا شعرونه ئې وګورئ.

"په خندا کښې چې په شا لاړه کړه شي
د سپرلو ورته هم خوله اوبهٔ بهٔ شي

ستا د زلفو پرېشاني مې زړهٔ راټول کړي
د رڼا خوبونه وینم چې تیارهٔ شي

د مودو مودو ګیلي په اوبو یوسي
هاغه یوه غاړه چې کله راپه زړهٔ شي

ستا ښکلا راباندې دغه کفر اوکړو
ګني ما وې د بنده به څوک بنده شي"[6]

درومانیت دویم توکے د فطري مناظرو او قدرتي ښکلاګانو سره د شاعر د مینې اظهار دے. څومره چې یو شاعر ددغه شیانو سره مینه لري او پکښې دلچسپي اخلي نو دومره د هغه په شاعرۍ کښې رومانیت راپیدا کېږي.په دغه لړ کښې هم دریاب صېب ډېره شاعري کړې ده. د نمونې په توګه د هغوي دا شعرونه ولولئ.

‘‘ شپونکیه! دا خو ستا شپېلۍ پکښې روح واچولو
ګنې په خپله خو سندره دومره نۀ وه کنه"[7]

"منمه چې ټپه به هم ورتۀ وي خو شپونکیه
مستي پکښې بېخي ستا دَ ګُداز نه عبارت ده"[8]

"بېګاه ناوخته ئې د غرۀ نه غټ ګېډے راوړے
سحر بیا ګوري تبر پړے سترے ستومانه سترے

"زۀپه تاپسي د ددې غرونو په ژو درخېژم
په لوپټه به مې ملا تړے سترے ستومانه سترے"[9]

"چې دا د جنت حوره ده که پېغله پښتنه ده
که نۀ د رنګ چینه ده په سپوري د چنار"[10]

"دې کښې نور څۀ راز دے خو سترګه ترخول دي کنه
فطرت زمونږه د ویالو په غاړه بنګ کړے دے"[11]

"فطرت په دې خلقو مئین دے ځکه
پښتانه عمر له په غره کښې ساتي"[12]

"چینه ده ،غر، شپېلۍ ده، د شپونکي ورتې ټپې دي
فطرت په مونږ مئین دے د ګورګرو سره ژوند دے"[13]

"ددې غرونو د جلال رنګونه ډېر دي
خوهر رنګ ئې د پُر سُوزه ترنم دے "[14]

درومانیت دریمه نکته د ماضي سره مینه ده، ماضي د هر انسان د ژوند برخه وي. او ددې نه هیڅوک ځان نه شي خلاصولی، ځکه چې ماضي سره زمونږ نه شلېدونکي تړون وي. ماضي که ښه وي که بده وي. خو یادونه ئې ارومرو راځي. او په عامه توګه انسان ته د حال نه ماضي ښه ښکارېږي. علي خېل دریاب هم د خپلې ماضي خواږه او تراخه یادونه پخپل کلام کښې راځاے کړي دي. دغه څو شعرونه ئې وړاندې کووم.

"عمر تېر شو دا کوڅه وه توره شپه وه
هغه خرپ د سپیني خولۍ نه راته یاد دے"[15]

"لږ خو مې د یاد په تار کښې واړوه
ما د مئینانو شمار کښې واړوه"[16]

"نن بیا دي په شدت سره یادونه راورېږي
څۀ چل راباندې کیږي. څۀ چل راباندې کیږي
کمے دي ګلالیه
زړګیه پسرلیه

قسم دے څۀ بل شان په کراتونو محسوسېږي
څۀ چل راباندې کیږي. څۀ چل راباندې کیږي
زړګے مې ټق کوینه
د پاتې نۀ دے چوینه

په تا پسې ژړېږي يوه لحظه نۀ قلارېږي
څۀ چل راباندې کيږي. څۀ چل راباندې کيږي
څۀ بل شانې حالت دے
په روح مې ثقالت دے

قيامت دے درنګ ساعت له دا دنيا جوړې ورانېږي
څۀ چل راباندې کيږي. څۀ چل راباندې کيږي[17]

"دستا د ياد راسره شر دے او وريږي واؤره
يخه يخنې ده دسمبر دے ا و وريږي واوره

دګلورينې ماضي يوه يوه پاڼه اړومه
ما په زنګون ايښودے سر دے او وريږي واوره

د تنهايۍ عذاب په غنو باندې څملولم
خوب رانه تلے مرور دے او وريږي واوره

د بېلتانه د درد اوبه ئې زخم پټې کړلې
زړۀ مې تازه تازه پرهر دے او وريږي واوره"[18]

"دا سخته خو غر غر ده
د زغم نه مې بهر ده
وجود مې د بنګړې په شان چورې چورې ماتېږي
څۀ چل راباندې کيږي. څۀ چل راباندې کيږي
دريابه! زما ژونده
زما د مينې خونده
بغېر لتا په ما يوه ګهړۍ کله تېرېږي
څۀ چل راباندې کيږي. څۀ چل راباندې کيږي"[19]

"عمر تېر شو دا کوڅه وه توره شپه وه
هغه خرپ د سپينې خولې نه راته ياد دے"[20]

تصوف د رومانيت يو بل مهم عنصر دے. دغه عنصر د نړۍ د هرې ژبې په ادبياتو کښې په خپل رنګ کښې په بېل بېل ډول موجود دے. رومانيت کښې ئې هم پوره اثر کړے دے. پښتو کښې تصوف نه يوازې په روماني شاعرۍ کښې شته بلکې د يوې موضوع په توګه ئې په هر ډول شاعرۍ کښې نفوذ کړے دے. د ډاکټر علي خېل درياب په شاعرۍ کښې د تصوف موضوع هم د رومانيت په رنګ کښې رنګ ده. د تزکيه نفس خبرې ، د رياضت او مجاهدې بحثونه، د مرشد رهنمايۍ ، د روح د پاکې د راز او نياز مرحلې او د خوږ نبي ( ص) سره د مينې اثر ئې په کلام کښې خواږه پيدا کړي دي.

"هغه چې ئې تطهير وشي د روح په تزکيه
غوڅۍ د سترګو رپ کښې د ملکونو فاصلې"[21]

"احساس د عيلين به مې کوۀ د لطافته
زما په روح به داسې ستا جمال خورېدو"[22]

"د سترګو سلسبيل کښې دي غوررزنګ دے د کېفونو
څڅېږي ترې د روح د بې خودۍ نزاکتونه "[23]

که مصنّلي ئې په هوا تلي خو پښتون چې نۀ ؤ
مونږه د داسې پير په لاس باندې بېعت ونه کړو"[24]

"دريابه کېفيت په يو کښې هم نۀوو د حال
پيران زما د دور خو د قال نه تاؤېدل"[25]

"د هغه پير سره خو ما بلها عمرونه ويستي
د هاغه پير سره د حال خبره نۀ جوړېده"[26]

"پيران زما د شمېره وتي دي خو
د مريدۍ تنده مې نه ماتېږي "[27]

زۀ پکښې سر ځنه د خپل باطن کوومه ورو ورو
ما ته پرتې زما په وړاندې دي د حال ائينې"[28]

"په ما د سرمدي کېفيت حال راخورېدو
په ما چې به په جذب کښې ستا خيال راخورېدو"[29]

"دريابه دغه کېفيت وي په آمد کښې زما
لکه په حال کښې وي د غوث اؤ ابدال تصور "[30]

"زۀ لا مقام کښې د* مُقام په تکل
څنګه توضيح کړمه د حال دائرې"[31]

دغه شان داخليت دے چې د رومانيت يو بل توکے دے. شاعر د خپل داخل اظهار په شعر کښې کوي، د خپل زړه خبره کوي او د خپلو جذباتو او احساساتو څرګندونه کوي،څومره چې د شاعر په جذباتو کښې ګرمي وي، د هغه په جذباتو کښې شدت وي نو دومره ئې په شعر کښې اثر زيات وي. د علي خېل درياب صېب په روماني شاعرۍ کښې دغه عنصر ډېر بې کچه بياموندې شي. دا لاندينې شعرونه ئې وګورئ.

"هاغه تنکۍ هغه نازکه زما نۀ هېرېږي
بېخي نوخېزه ده نو ځکه زما نۀ هېرېږي

هاغه د سپينې خلې د نرمو شونډو تړمه بوسه
د قندهار د قندو څکه زما نۀ هېرېږي

هاغه چې ته پکښې دريابه تودولې ښکلا
هاغه شانګله د واورو ډکه زما نۀ هېرېږي"[32]

"ما بائېللے په يو داسې سړي زړۀ دے
چې بيخي د محبت نه خبر نۀ دے

زما نوم د ټولو ښکلېو مخکښې اخلي
دا جانان زما پاګل دے که ساده دے"[33]

يو بل ځائے وائي:

"بنګړي به درله راوړمه رانجه به درله راوړم
چې ښار ته کله لاړ شمه هر څه به درله راوړم

یوې بلې ته ا ووې چې دریاب په تا مئین دے
که نۀ مني نو خامخا بېلګه به درله راوړم"[34]

"جانانه ډېر یوازې شوے یمه
ستا نه بغېر یوازې شوے یمه

هاغه چې تۀ ئې رانه تلے اشنا
د دشت په څېر یوازې شوے یمه

ما هېڅ خیال خاطر کښې نۀ راولې
ستا یمه هېر یوازې شوے یمه"[35]

دا شعرونه ئې هم وګورئ:

"زړۀ مې ترې لاندې لاندې څکه لګي
ستا د څادر پلۀ په زمکه لګي

لکه بیخي تازه کلۍ د انار
دومره تنکۍ دومره نازکه لګي

نن ئې رنګونه څان ته وېسخول
نن خو بیخي سمه لولکه لګي

ستا په لټون کښې دے دریاب ښکلیه
څکه د څان نه بې درکه لګي"[36]

د روایت نه بغاوت د رومانیت اصل روح دے. هم ددې په بنیاد شاعرۍ کښې جدت او نوښت رامخ ته کېږي. نوې نوې خیالات او افکار په شعر کښې ځاے بیامومي. پښتو شاعرۍ کښې ډېرو لږو شاعرانو د روایت نه بغاوت کړې دے. اکثر شاعران د مخکینیو روایاتو په تقلید کښې شاعري کوي. دریاب صیب هم کله کله د روایت نه بغاوت کړې دے. دلته ئې یو څو شعرونه راوړم.
"شاعران به ئې تتبع کوي دریابه
روایت دې په جدت کښې پیوسته کړو "[37]

"مسلماني مې ایله زده کړه سرو
چې د ملا نه لرې وتې یمهدنیا مې وینځه د کهاله ده څکه
زه د دنیا نه لرې وتې یمه "[38]

"تا چې قسم د نۀ راتلو کړے دے
ما هم ژوندون ستا په نامه لیکلے
تا که غېرت دې په پښتو کړے دے
ما درته هم د انا ضد نیولے
خوښه دې خپله چې راځې او که نۀ
ما خپلوې او که نۀ"[39]
"زما د ژوند همه رنګونه ستا په غېږ کښې دي خو
زۀ ویمه دا د خودکشۍ د پاره ډېره ښۀ ده"[40]

"د کور " بېټي" مخکښې بوندے کړئ چې مجرم دے اصل
لاسونه مۀ پرېکوئ چرته هم د غلۀ نه اول"[41]

"بس هغه تۀ ئې په دې ټوله غرضي دنیا کښې
چا که یاد کړے یمه زۀ د ضرورت نه بغېر"[42]

"څۀ که کشر وو خو ما کړې غلطي وه
ننواتې زۀ په خپله پسې لاړم"[43]

"څۀ عجیبه غوندې خبره وه چې څۀ چل وشو
**ښکارې په خپله د پنجرو نه چې مرغی اوویستې"[44]**

" د خود غرضۍ د انتها وخت ته دې پاتې کړمه
زامنو پلار ته په پټې کښې پولې جوړې کړلې"[45]

ددې نه علاوه دکلی وال ژوندعکاسي هم د رومانیت خاصه ده. روماني شاعران د کلي ژوند ته ډېر اهمیت ورکوي او د کلیوال ژوند رنګونه په خپله شاعرۍ کښې رانغاړي. علي خېل دریاب هم کلي وال دے. په کلي کښې پیدا شوې دے او په کلي کښې ئې تربیت شوې دے، او هم په کلي کښې لوے شوې دے. هغه د کلي د ژوند دهر رنګ نه خبر دے، او دغه ټولې رنګینۍ ئې په خپل کلام کښې بیان کړې دي. د مثال په ډول دغه څو شعرونه ئې دلته رانقل کووم.

"ستاسو کور مې سم په سترګو کښې غړېږي
نور خو کلے ګېر چاپېره رایادېږي "[46]

"پښتون په ډزو کلے نه پرېږدي خو
پښتون ترې لاړ شي د پېغوره یاره "[47]

"دریابۀ دا د کلیوال رنګونو یو اړخ دے
دغه سپین ږیری چې نائي ته په مېزري ناست دي "[48]

"ما وې دریابه جوړې مصر ته رانښوتم
نن په خپل کلي کښې زما نه لاره ورکه شوله"[49]

"دریابۀ اوس د کلي نه هغه وختونه تلي
بد رنګ مازیګري دي بې تنوره ماښامونه "[50]

"هاغه کلي ته بلها قسمه وخورم
خو بیا هم هلته بیا بیا ځمه بلها ځم "[51]

"یو کلیوال شډل بډل لاړ شي په رزق پسې
خویونه واخلي بیا د ښار هغه مې سم بدې شي "[52]

"تا د سپرلي په بارانه کښې زلفې وسپړدلې
ما وې که کلي ته جوړ چا د مښکو کان راوړې "[53]

"د دریابّ سره دا څنګ ګیدړ سنګے دے
چې په ده د هر یو کلي ښکلي وران دي "[54]

"پخوا به نیمه شپه حجره خوربېده
اوس نیمه شپه کلي کښې غله خوربېږي "[55]

"زړۀ د دریابّ په دې پوره کلي کښې
په هاغه پورې بام ودر خېژي"[56]

"ویم چې لوګے ورته د ښار دا محلونه کړمه
چې مې دکلي هاغه خړ کورونه سترګو ته شي "[57]

"ستا د چنار چنار ځوانۍ بلا په ځاے اخلمه
بل په دې ټول کلي کښې څوک دے ستا په منګ جانانه"[58]

"چې لیونۍ تنده پرې ماته کړمه
د خولې کنګال دې په ګودر کښې پرېږده"[59]

"د لیونۍ د خولې کنګال ته دې مودې تېرې کړې
دریابهٔ هاغه مازیګر اؤ ګودر بل ځاے کښې دے"[60]

"ګل کڅونو کښې پرکاله خاموشي ده
چې دفن پکښې ورتې ورتې تپې شوې"[61]

مافوق الفطرت عناصر په شعر کښې راوړل هم د رومانیت برخه ګڼلي کېږي. دا هغه عناصر وي کوم چې په نظر نه راځي ، غېر مرئي طاقتونه لري، او هغه څه کولې شي چې عقل ئې نه مني. د لویو لویو تخیلیاتي مهماتو د سر کولو دپاره شاعران دغه مافوق الفطرت عناصر په خپل کلام کښې راوړي. دریاب صېب هم په خپل کلام کښې دغه عناصر کله کله راځاے کړي دي.په دغه عناصرو کښې پیریان ، ښاپېرۍ ، کوه قاف یا دېوانان وغېره شامل دي. یو څو نمونې ئې په دا ډول دي.

"د وخت مفتیان په ما فتوې هسې عبث لګوي
د ملاکنډ د ښاپېرو ښکلا ته چرته ګوري "[62]

"چې تا ورته کرلي کشمالي په دیوالونو
راځي به دې په شپه کښې ښاپیرې په دیوالونو"[63]

"زما په یار کښې دغه یو خوئ د دیوانو هم دے
هغه چې اووایي چې زر راځمه زر نه راځي "[64]

"کتله ئې ددې اخري سر ته خزانه
پخوا به سادګان د بوډۍ ټال نه تاؤېدل"[65]

"په نظر کښې لېونې د دنیاګۍ یُو
چې مئین د خوب و خیال په ښاپېرۍ یُو"[66]

"تا چې د کور په دېوالونو کشمالي وکرل
کم عقلي دا دې ښاپېرو ته لاره جوړه کړله"[67]

"دا په تیاره کښې ئې سپړدلې دي کمسې اؤ ځنې
که شبستان ته ښاپیرۍ ځانله ختن راوړے "68

"په کوهِ قاف کښې کیږي،ستا د جمال خبرې
ښاپیرۍ هلته وائي،ستا د ارمان سندرې"69

د تخیل ازادي ـــ د روماني شاعرانو دپاره یو مهم سهولت دے، اګر چې روماني شاعران ددغې سهولت نه په خلاص مټ کار اخلي، هغوي په شاعرۍ کښې د ساخت او رغونې خیال نه ساتي، که قافیه سر خوري او که ردیف له مینځه ځي.ولې خیال ته اهمیت ورکوي ، خیال که هر څنګه وي مخې ته راولي . په دغه لړ کښې فن په خیال قربانوي. خودا زه په وثوق سره ویم چې ډاکټر علي خېل دریاب دغه لار نه ده خپله کړې او هغه همېشه دخپل فن د تقدس خیال ساتلې دے. هغه چې کوم خیال راوړے دے، هغه ئې د ساخت او فارم په جامه کښې رانغښتي دے. دلته یوه خبره ضروري ګڼم او هغه دا چې هغه د تخیل ازادي په دې لړ کښې قائم ساتلې ده ، چې ډېر نازک نازک خیالات چې نور شاعران د هغې په بیانولو کښې دشرم یا حیا نه کار اخلي هغه دریاب صېب ډېر په بې باکۍ سره بیان کړې دي. دغه شعرونه ئې نمونه از مشت خروار وړاندې کووم .

"د لوند اوربل څاڅکي ئې وکړل په ما
وئيل ئې پاڅه کنه تللې شپه ده "70

هاغه چې ستا دلوند وجود نه پکښې تپ ختلو
دپسرلي د وصال شپه راته رامخې ته شوه "71

"بوسه دې راکړه خو په ډېره ناخوالې دې راکړه
په تریو تندې کښې دې د خال په خوږو پوهه نهٔ کړو"72

انسان پالنه یا بشر دوستي هم د رومانیت یو روڼ اړخ دے. زمونږ شاعران نزدې نزدې په ټولیزه توګه د انسان پالنې او بشردوستۍ علمبردار دي. زما په خیال د پښتوبه داسې کوم شاعر نه وي چې هغه پخپل کلام کښې د انسانیت د فلاح او بقا دپاره څه وئیلي نه وي. علي خېل دریاب هم پخپله شاعرۍ کښې د رومانیت دغه توکے ځاے په ځاے پکار راویستي دے. او د خپلې شاعرۍ ښائیست ئې پرې سپوا کړے دے. دا شعرونه ئې ولولئ.

"هر سړي د بغض نه جامې کړي
زهٔ چې کله کله بهر ګورمه "73

"اعتماد نشته مطرح دے په دنیا کښې
اعتماد خو سود اؤ زیان دے قتل کړے

دا که هر څومره تراخه دي خو ریښتیا دي
چې انسان اول انسان دے قتل کړے

که نااهله دي په کانو ولي خبر دے
مېلو ګوره مهربان دے قتل کړے "74

"هم د هغو په پښو کښې ماتې به شي
څوک چې په خپله خاوره غنې کوي"75

"دا خبره مي د پلار زړهٔ کښي خوندي ده
د کم ظرف سره نيکي د ځان بدي ده

بي لالچه يو قدم درسره نهٔ ځي
ماديت دے دا دنيا ټوله مادي ده[76]

"يوه ماشومه مور نيولې وه د لاس ژړل يې
وئيل ئي يه! وروره ددې نه چا والې اوويستي

زما د قام د اتلتوب تمغي هغوي ته تړي
چي جنازې ئي د پښتو پښتونولى اوويستي"[77]

"د کور " بېتي" مخکښي بونډے کړئ چي مجرم دے اصل
لاسونه مهٔ پرېکوئ چرته هم د غلهٔ نه اول"[78]

"د زرو جريبو د جائېداد تقسيم ئي ومنو خو
کور کښي د ورونو په دېوال خبره نهٔ جوړېده"[79]

ددغه بره څېړني په نتيجه کښي مونږ وئيلي شو چي د ډاکټر علي خېل درياب په کلام کښي د رومانيت او د رومانيت د عناصرو پوره اغېزه او اثر موجود دے ـ او هغه که د رومانيت ټول په ټوله توکي په خپل کلام کښي نهٔ دي راوړي نو تر کافي حده دغه توکي د هغه په کلام کښي شتون لري. په دغه بنياد مونږ هغه د جديد دور د روماني شاعرانو په صف کښي شمارو او هغه پکښي د ځانګړي مقام مستحق ګڼو ـ

حوالي

---

[1]https://useum.org/Romanticism/What-is-Romanticism
[2]انور جمال، پروفيسر،ادبياصطلاحات،نيشنلفاونڈيشنبکلاهور،ص ١١٢
[3]**راج ولي شاه خټک، ډاکټر، د پښتو ادبي تحريکونه، پښتو اکيډمي پېښور (دويم چاپ) ٢٠١٨، مخ ٢٨۴**
[4]https://www.thoughtco.com/romanticism-
[5]https://www.britannica.com/art/Romanticism
[6]علي خېل درياب ، ډاکټر، بهير د جمال، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، مخونه ١٧، ١٨
[7]علي خېل درياب ، ډاکټر ، عطر ژن ، همېشه پښتو ادبي ټولنه امانډره،٢٠١٩ ء ، مخ ١١۴
[8]علي خېل درياب ، ډاکټر ، د رناګانو سنګسار، همېشه پښتو ادبي ټولنه امانډره، ٢٠٢٢ء ، مخ ١٩٠
[9]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ٢٠٢١ء، مخ ۴۴
[10]هم دغه اثر، مخ ٢٢
[11]هم دغه اثر، مخ ٧٢
[12]هم دغه اثر، مخ ٢٠٠
[13]هم دغه اثر، مخ ٢٠٣
[14]هم دغه اثر، مخ ١٩۴
[15]هم دغه اثر، مخ ٢٠۵
[16]هم دغه اثر، مخ ٣٢
[17]هم دغه اثر، مخ ۴٢
[18]علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، چاپ کال ٢٠٢٠ء ، مخ ۴۶
[19]عطر ژن ۴٣
[20]هم دغه اثر، مخ ٢٠۵
[21]هم دغه اثر، مخ ١۶٩
[22]هم دغه اثر، مخ ١٣۵
[23]هم دغه اثر، مخ ١٧٨

[24]هم دغه اثر، مخ ۲۴
[25]هم دغه اثر، مخ ۵۸
[26]هم دغه اثر، مخ ۹۲
[27]هم دغه اثر، مخ ۲۰۸
[28]هم دغه اثر، مخ ۲۲
[29]هم دغه اثر، مخ ۱۳۵
[30]هم دغه اثر، مخ ۱۶۳
[31]هم دغه اثر، مخ ۱۷۷
[32]هم دغه اثر،مخ ۴۵
[33]هم دغه اثر،مخ ۸۶
[34]هم دغه اثر، مخ ۴۸
[35]هم دغه اثر، مخ ۵۴
[36]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء، مخ ۱۸
[37]هم دغه اثر، مخ ۱۹۱
[38]هم دغه اثر، مخ ۱۹۲
[39]هم دغه اثر، مخ ۱۸۰
[40]هم دغه اثر، مخ ۹۴
[41]هم دغه اثر، مخ ۸۶
[42]هم دغه اثر، مخ ۸۴
[43]هم دغه اثر، مخ ۷۴
[44]هم دغه اثر، مخ ۶۹
[45]هم دغه اثر، مخ ۶۶
[46]على خېل درياب، ډاکټر ، سندريز الهام ، همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده، ۲۰۲۰ ء ، مخ۱۰۹
[47]هم دغه اثر، مخ ۱۷۷
[48]هم دغه اثر، مخ ۲۰۱
[49]هم دغه اثر، مخ ۶۱
[50]هم دغه اثر، مخ ۵۳
[51]هم دغه اثر، مخ ۵۶
[52]هم دغه اثر، مخ ۹۰
[53]هم دغه اثر، مخ ۱۰۰
[54]هم دغه اثر، مخ ۱۵۲
[55]هم دغه اثر، مخ ۱۵۷
[56]هم دغه اثر، مخ ۱۶۴
[57]هم دغه اثر، مخ ۱۷۱
[58]هم دغه اثر، مخ ۱۷۵
[59]هم دغه اثر، مخ ۸۷
[60]هم دغه اثر، مخ ۱۴۷
[61]هم دغه اثر، مخ ۶۶
[62]هم دغه اثر، مخ ۱۶۹
[63]هم دغه اثر، مخ ۵۱
[64]هم دغه اثر، مخ ۶۴
[65]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء، مخ ۵۸
[66]هم دغه اثر، مخ ۷۸
[67]هم دغه اثر، مخ ۱۵۹
[68]هم دغه اثر، مخ ۱۸۴
[69]هم دغه اثر، مخ ۳۹
[70] علي خېل درياب ، غزل بن ، همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده، ۲۰۰۳ ء ،مخ ۱۴۸
[71]على خېل درياب، ډاکټر ، سندريز الهام ، همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده، ۲۰۲۰ ء ، مخ ۱۸۷
[72]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء، مخ ۱۰۳

[73]هم دغه اثر، مخ ۱۷۵
[74]هم دغه اثر، مخ ۱۸۵
[75]هم دغه اثر، مخ ۴۰
**[76]**هم دغه اثر، مخ ۵۰
[77]هم دغه اثر، مخ ۶۸
[78]هم دغه اثر، مخ ۸۶
[79]هم دغه اثر، مخ ۹۲